مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب الله زغم

۲۰۲۳/۰۹/۲۱

د «ست» رواج

وایي د چا کره مېلمه و. د کوربه عادت و، چې ډېر ستونه وکړي. مېلمه موړ شو؛ خو کوربه ورته ټینګ شو، چې نوره به هم خورې. چې ونه شو، قسمونه یې ورکړل. ته و خدای، ته و کران... خو د مېمله خبره یوه وه، چې بس مې دي. کوربه ته ورياد شو، چې مېلمه يې په پير عقیده لري؛ نو ویې ویل: په پیر صاحب قسم درکوم. مېلمه چابك کاسې ته لاس یووړ: یاره ګنانګاروه خو مې مه. د پیر صاحب زور کله لرم.

موږ په کابل کې اوسېدو، د کلي په اکثرو رواجونو نه وو خبر. کله کله چې به د ترندو کره تلو، هغوی به په دسترخوان باندې راته ډېر ستونه کول، چې ته خو لږه نوره هم وخوره، پلانی شی خو دې ونه خوړ... په ستونو به يې ستړي کړو. زموږ په کور کې بیا د ستونو رواج چنداني نه و. خصوصاً له خپلو ملګرو سره خو بیخي له تشریفاتو لرې وو.

د تنظيمي جګړو له ډاره چې کلي ته ولاړو، یوه شپه مې د تره زوی زموږ کره و. ژر په ډوډۍ موړ شو. موږ ورته یو دوه وارې ست وکړ؛ خو هغه وویل، نه یې کوم. سبا یې مور زما ادې ته ویلي وو، چې رحمت الله بېګاه په کور کې له سره ډوډۍ وخوړه. رحمت الله مو راټینګ کړ، چې ولې؟ هغه وویل: دلته همدا رواج دی، مېلمه چې لږه ډوډۍ وخوړه بیا لاس نیسي، د کور ښځنتن ورته ستونه کوي، بیا یو څو شخونده خوري، بیا په څټ کېږي، بیا کوربه ورته ټینګېږي، همداسې په ستونو ستونو مړېږي. که مېلمه په خپله ځان موړ کړي او د کور ښځنتن ورته نور ستونه وکړي؛ نو بیا به یې نس ډډ شي.

زما په ګومان د ستونو رواج به په دوو دلیلونو پیدا شوی وي. یو دا چې پخوا به مېلمانه د دې لپاره چې وږسترګي ښکاره نه شي، د بل په کور کې به يې ډېره ډوډۍ نه خوړه، ځکه خو کوربانه به يې د شرم د ختمولو لپاره ستونه ورته کړل. بل دلیل به يې دا وي، چې پخوا نیستي ډېره وه. زموږ وطنوال له پخوا دغه عادت لري، چې مېلمه ته به ښه خواړه تیاروي. څنګه چې ښه خواړه به هر وخت نه وو میسر؛ نو کوربه به له لوربېنې خپل مېلمه ته ستونه کول، چې له دې نعمته پوره استفاده وکړي.

اوس چې د خلکو تر منځ راشه درشه او ناسته ولاړه ډېره شوې ده، مېلمانه د پخوانو په شان شرم نه کوي. همدارنګه د پخوا وختونو نیستي اوس په هېڅ ځای کې نشته په تېره بیا په ښارونو کې خو د خلکو د ژوندانه کچه تر پخوا ډېره ښه شوې ده؛ نو ستونو ته هم اړتیا نه لیدل کېږي. ښه به دا وي چې مېلمانه خپلې طبعې ته پرېښودل شي، څه چې یې خوښه وي او څومره چې یې اشتها وي، هماغومره دې وخوري.

ځینو ته ځانونه په دې باندې ښه پښتانه ښکاري، چې ملګري په زوره مېلمانه کړي، په زور وربانديې شپې وکړي او په زوره یې هر ځای ته چې د دوی خوښه وي، بوځي. زما څو یاران د مېلو شوقیان دي. کله کله چې زه بل کار لرم، یا مې طبع ورته نه کېږي، دوی راباندې ډېر ټینګار کوي، چې ورسره ولاړ شم. زه به له ناچارۍ ورسره ځم؛ خو بیا له مېلې څخه خوند نه اخلم. زما په نظر د انډیوالۍ یو شرط دا دی، چې سړی باید د خپل ملګري طبعې ته وګوري، هڅه دې وکړي چې ځان له نورو سره اعیار کړي، نه دا چې خپله خوښه په ملګرو وتپي.